ماخذ تحقیقی مجلہ

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-02

OPEN ACCESS

CC BY NC

**جمال عبدالناصر**
ايم فل (پښتو) ريسرچ سکالر،شعبه پښتو، يونيورسټي آف بلوچستان کوئټه
**ډاکټر نصيب الله سيماب**
پروفېسر، پښتو څانګه، يونيورسټي آف بلوچستان کوئټه

# د ملي هيندارې د کيسو بنيادي توکي او جوړښت

**Jamal Abdul Nasir***
M.Phil Scholar, Department of Pashto, University of Balochistan.
**Dr. Naseeb Ullah Seemab**
Professor, Department of Pashto, University of Balochistan.

***Corresponding Author:**

## The Basic Elements and Structure of the Folktales of Milli Hindara

In this article, we investigate the basic elements and structure of the stories of Milli Hindara. Just as every story based on basic elements, Milli Hindara also based on some special elements that make its structure different from other stories. In this article, Milli Hindara's stories divided into types such as romantic, epic and reformist stories. Along with this, the elements of Milli Hindara highlighted. This article discusses the plot, themes, supernatural elements, culture, characters, scenery, length, symbolism, brevity of expression and the results of the stories. At the end of the article, concluded that Milli Hindara's stories built on the above-mentioned elements and are such a clear Mirror that every aspect of Pashtun culture vividly reflected in it. Both the intellectual and artistic aspects of it completely encompass the Pashtun society. Future researchers can conduct extensive research on the structural elements of the stories of the Milli Hindara to further value enhancement.

**Key Words:** *Structural, Basic Elements, Special Elements, Supernatural, Intellectual.*

ملي هينداره د نکلونو درې ټوکه نثري کتاب دی چي د محمد ګل نوري لخوا تاليف شوی دی. نکل د خپلې زمانې يو ځانګړی صنف دی چي پرکيسه

ماخذ تحقیقی مجلہ
ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-02

ګویې تکیه کوي، او کیسه ګو د بېلا بېلو موضوعاتو کیسې سینه په سینه اولس ته اوروي، د دې کیسې اورېدلو لپاره به ځانته یو ماحول ترتیبېدلو، په کلي کښې به د کیسې اورولو لپاره یو ټاکلی کس ؤ، څوک چې به اکثر ډېر ښهٔ مبلغ او فصیح اللسان ؤ ، ښهٔ حافظه به یې درلوده ، پر ترنم غږ به یې درلود، د اورېدونکیو په نفسیات او د وخت په تقاضو به پوه ؤ.چې موږ ورته نکلچي وایو. دې نکلچي ته به د کلي ماشومان ، ځوانان او سپین ږیرې ټول په یوهٔ حجره کښې ناست یو غوږ ؤ. د نکلچي سره به یوکس چې ورته شپانهٔ وئیل کېدلو ، د هغه ذمه واري به دا وه چې نکلچي ته به یې ښهٔ ښهٔ ! نو بیا! هه! وئیلو ، تاکې نکلچي او اورېدونکي د کیسې تر پایه بېداره وساتي.

که چېري موږ د ملي هینداري د نکلونو فکري وېش نور پر مخ وړو نو به د ملي هینداري نکلونه په درې ډولونو تقیسموو. رومانوي نکلونه ، حماسي یا تاریخي نکلونه او اصلاحي یا اخلاقي نکلونه او د دریو واړو اجمالي جایزه به لاندې واخلو.

**۱. رومانوي نکلونه :** په فطري ډول عشق د انسان په خټه کښې اخښل شوی دی او په اکثر داستانونو(نکلونو) کښې د مینې او عشق عنصر د اورېدونکو د خوښې وړ ګرځي. په نکل کښې نکلچي د تخیل اورومان یوهٔ داسې فضا جوړوي چې د اورېدونکو زړونه جلبوي. په دې هکله ښاغلی سیال کاکړ داسې نظر لري چې؛

> " عشق هغه بنیادي او اساسي عنصر دئ، چې د نکلونو مانۍ باندي ولاړوي.زموږ ملي نکلونه عشقي موضوعات لري. کې چیري د موسی جان څخه ګل مکۍ لیری کو او یا شاترینه له خشکیاره څخه بېله کو، نو باور مودئ، چې زموږ دغه فولکلوري داستانونه به خپل داستاني ارزښت اصلا له لاسه ورکي، نو ځکه وایو، چې د عشق په بلو لمبو د مین او مینې دنیا آباده وي." (سیال،۱۹۷۹ء،۲۷مخ)

د ملي هینداري په نکلونو کښې د نارینه کردارونو علاوه چې نکلونه یې په نامهٔ دي ، ښځینه کردارونه د وفا علامتونه دي، هر یو لکه په فتح خان برېڅې کښې رابیا د مینې لپاره کور کلی پرېږدي، هندوستان ته ورسره ځي، په هر درد و غم، جنګ کښې له فتح خان سره اوږه په اوږه ولاړه وي. له مرګه وروسته شپېته برېڅې په پردی زمکه ( هندوستان) کښې ښخول نهٔ غواړي ، څو چې شمس الدین مغول باچا د فتح خان د مېړاني په انعام کښې ورته سیمه بخښې او رابیا همهلته له پسماندګانو سره ژوند کوي،

ماخذ تحقیقی مجلّہ
ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-02

همداسي په ښادي او ببيو نکل کښي ببيو د خپل مئين وروسته خدای ته سوال کوي او خپله ساه ورکوي. ګلمکۍ په موسی جان پسي مري ، تانو د ولي جان خور د خپل عزت او د کلا د ښځو د عزت ساتنه کوي. شېرينو او د باچا لور (چي د مومن خان په نکاح وي) دواړه په مومن خان پسي ساه ورکوي. ګلبشره د طالب جان پر قبر ساه ورکوي. درخانۍ په آدم خان پسي ساه ورکوي.

همدارنګه مابۍ ، شاپاڼۍ ، شمايله ، نازو، شهواو نورې د وفا هغه علامتونه دي چي موږ يې و نړۍ ته د مثال لپاره وړاندي کولای شو.

**۲. حماسي يا تاريخي نکلونه :** هغه نکلونه چي د ملي اتلانو کيسي پکښي دي لکه په هوتکنامه کښي چي د مېرويس خان او ګورګين تر منځ د جګړو نکلونه ، لکه د ايمل خان مومند او مغولو جګړې، او په سلګونو نور حماسي نکلونه چي تاريخي کيسي پکښي نغښتي وي. په ملي هينداره کښي خصوصاً د فتح خان بړېڅي نکل په دې اړه د يادولو وړ دی. او ځيني نور نکلونه چي په جزوي توګه حماسي رنګونه لري. ښاغلی عبدالباري جهاني ليکي چي :

> " د پښتنو په فوکلوري نکلونو کي د فتح خان بړېڅي نکل يوه له هغو کيسو څخه ده چي ډېرو زياتو تاريخي او اجتماعي پېښو ته اشاره پکښي سوې ده. په کلابست کي د بړېڅانو پاچهي، په هندوستان کي د مغول شمس الدين پاچهي، د مغولو او پښتنو تر منځ جنګونه او د هغوی تر منځ زړه دښمني د دغه نکل تاريخي اړخونه دي او ښايي د دغو حوادثو ذکرېدلو دې نکل ته داسي ښه ورکړې وي چي ډېر زيات خلک هغه ته د فوکلوري نکل په سترګه نه بلکي د يوه تاريخي حقيقت په سترګه ګوري." (جهاني، ۲۰۱۱ء، ۱۳۴م مخ)

د حماسي نکلونو په موضوعاتو کښي توره، مېړانه، ننګ، ناموس، مرکه، جرګه، قهرماني، پهلواني، دانشمندي، بهادري، هوډ، پت ، حجره ،جومات او نور شامل دي. چي د ملي هينداري په هر نکل کښي خال خال موجود دي.

**۳. اصلاحي نکلونه :** هغه نکلونه چي ټولنه ترې پند، پوهه، عبرت، اخلاقي او اصلاحي سبق اخلي ، اصلاحي نکلونه بلل کيږي. د مشرانو له خوا به نکلونو خصوصاً د ټولني د رويو د جوړولو او د اصلاح لپاره اورېدل کېدلو، او همدا به د تفريحي تعليم حاصلولو لويه ذريعه وه. موږ د ملي هينداري له نکلونو څخه ګڼ شمېر اصلاحي پندونه اخيستلای شو. د نکلونو له لارې قهرمانانو د خپلو زامنو روزنه څنګه کوله ؟ پلرونو ته درنښت څنګه ؤ ؟ مېندو ته سرټيټي څومره وه ؟ له ښځو سره مينه تر کومه حده وه ؟ مشرانو سره ناسته پاسته ، عزت او احترام څهٔ

ماخذ تحقیقی مجلہ
ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-02

ډول ؤ ؟ ملګرتیا څنګه پالل کېدله ؟ خپلوانو او پردیو سره کوم چلند ېکار ؤ ؟ دا ډول په سلګونو سوالونه د ملي هینداریې په لوستلو ځوابېدلی شي. ښاغلی محمد ابراهیم عطایي لیکي چي :

" په ملي هینداره کي یو شمېر داسي نکلونه هم راغلي
دي چي هغه د ژوند اخلاقي معیارونو او د انساني
سلوک او لمانځنه توصیفوي."
(عطایي، ۲۰۱۱ء، ۶۳م مخ)

د نکلونو د ډولونو پس به اوس هغه بنیادي توکي تر بحث لاندي راوړو چي له کبله یې د نکل جوړښت رامنځته کیږي . لاندیني توکي یې بنیادي حثیت لري ـ

۱ـ **پلاټ:** د مرکزي کیسي شاوخوا چي کومې فطري کیسي پیښیږي یا تړل کیږي، هم دې تسلسل ته په ادبي اصطلاح کښي پلاټ وئیل کیږي. ښاغلی نصیب الله سیماب د پلاټ تعریف داسي کوي چي؛

" په قصه کښي د واقعاتو منطقي سلسلي ته پلاټ
وایي په قصي کښي پېښېدونکي واقعات یو له بله
سره داسي تړل چي یوه واقعه له بلي څخه را
زیږیدلي ښکاره شي او په منطقي ډول مخ په وړاندي
تګ وکړي او یو فطري پایلي (نتیجې) ته ځان
ورسوي." (سیماب، ۲۰۱۹ء ، ۹۹م مخ)

دې کښي هیڅ شک نشته چي پلاټ په یو نکل کښي اساسي حېثیت لري. د پلاټ نه بغیر د نکل جوړښت امکان نۀ لري. که موږ د ملي هینداریې د نکلونو د پلاټ خبره وکړو، نو موږ وینو چي د ملي هینداریې د هر نکل پلاټ یو له بل سره داسي په فطري توګه تړلی ښکاري چي د اورېدونکیو یا لوستونکیو ورباندي د غیرفطري شک بالکل نۀ راځي، همدا خبره یې د دلیل لپاره کافي ده چي د ملي هینداریې اکثر نکلونه له مودې مودې نه سینه په سینه تر حاضر وخته پوري را رسېدلي دي. یو نیم نکل چي په پښتنه ټولنه کښي یې شهرت نۀ دی موندلی، لامل یې کېدای شي دا وي چي د پښتني ټولني له مزاج سره سمون نۀ خوري.

۲. **موضوعات:** د نړۍ د هرې کیسي شاته یوۀ نه یوۀ یا ډېرې موضوعګاني ضرور شتون لري. د نړۍ پر مخ به داسي یوۀ کیسه څوک و نۀ موندای شي چي پکښي موضوع نۀ وي کارول شوې. ځکه خو کیسه له موضوع سره او موضوع له کیسي سره تړلي وي. ښاغلی نصیب الله سیماب پخپل کتاب کښي د داستان او نکل د موضوع په هکله نقل کوي چي:

" د موضوع په لحاظ داستان څلور قسمونه لري .
لومړی مهماني داستانونه ، دوهم پر فوق الفطرت
عناصرو باندي مشتعل داستانونه ، دریېم د ځناورو د

ماخذ تحقیقی مجلہ
ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-02

کــردار ځخــه د اخلاقــي درس ورکولوداســتانونه او
څلورم عشقيه داستانونه" (سليم اختر،۱۹۹۱ء، ۳۲م
مخ)

که موږ په عام ډول د اولسي ادب پر موضوعاتو نظر وکړو نو موږ ته بېلابېلي کيسې، داستانونه، پخوانی اسطوري، شفاهي تاريخ، متلونه، نڅاوې، موسيقي، معماوې، شوخی، خرافاتونه، سندرې، قصيدې، مرثيې، دعاوې، ښېرې، کوډې، کرکې، کړنې، انګېرنې، رټنې، سپکاوی، حاضرجوابي، پېغورونه ، د زېږنې او مړينې مراسمونه ، درناوی، سلامونه ، ځوابونه ، اظهارونه ، مينې، نفرتونه، مېرانې، سپيتانې، روزګارونه، بدل، سوره، مرکې، جرګې، ننواتې او داسې بلها نور موضوعات تر سترګو کيږي چې د اولسي ادب لمن يې پراخه کړې ده. لاکن که په خصوصي ډول موږ د ملي هيندارې پر موضوعاتو نظر اچوو نو موږ به يې لاندې لږ تفصيل ضرور بيانوو.

**۳. مافوق الفطرت عناصر:** له مافوق الفطرت عناصرو څخه مراد هغه کردارونه چې په نکلونو کښي د حقيقت برعکس کارونه کوي. يا وئيلی شو داسې کارونه چې د عقل څخه ليري چې په اصلي ژوند کښې يې کول مشکل يا ناشونی وي. په داستان (نکل) کښې ګام په ګام د جناتو، توردېب، ښامار، ښاپېريانو او داسې د نورو ذکر راځي او په ځينې نکلونو کښې جادو او په غيبيشيانو باندې يقين او باور کول چې په صحيح مانا د اورېدونکو زړونه جلبوي او د دلچسپۍ سوب يې ګرزي. دا چې د اولسي نکلونو موضوع له مافوق الفطرت عناصرو څخه خالي نۀ وي، نو ځکه خو ښاغلی خليل باور د داستان د موضوعاتو په هکله ليکي چې:

" په پراخه سويه په دې کښي اساطير، لېجنډ او تر
هغه هم په پراخه کچه اولسي نکلونه هم د داستان په
لمن کښي ځائيدلای شي، د اسانی دپاره به ووايو چې
داستان يو قالب دی، هئيتي ساخت دی او اساطير،
ديومالا، لېجنډ او اولسي نکلونه يې موضوعات دي."
(فاران، ، ۲۰۱۵ء ، ۱۹م مخ)

د اولسي نکلونو په ځانګړنو کښي مافوق الفطرت عناصر د ملا د تير کردار ادا کوي. د داسي نکلونو په اورېدلو باندې د اورېدونکو هم خيالي تنده خړوبيږي او هم زړۀ په تسل کيږي.

د اولسي نکلونو په اندرون کښي اساطير هم کم کردار نۀ دی ادا کړی. هر نکل له اساطيري ونډو ډک دی. هره کيسه يې په اساطيري بنه ښايسته ده. اساطير چې په نکلونو کښي ورته عقيدوي حېثيت حاصل دی. او خلکو يې پخپل وخت کښي حقيقت تسليم کړی دی. که په کيسو کښي له عقيدې سره جذبات او له مذهب سره رسومات په داسي طريقه وتړل شي چې انسانان يې د خدايي درجې

ماخذ تحقیقی مجلہ
ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-02

ته ورسوي، هغه ټول کارونه ، کردارونه او پېښې په اساطیرو نومول کېږي.
ښاغلي خلیل باور په اساطیرالاولین نومې مضمون کښې لیکي چې:

" په انګرېزي ادبیاتو کښې اساطیر پر څلور رقمه باندې وېشل شوی دی (۱). فېبل Fable (۲). دیومالا Myth (۳). تاریخي اتلان Legends (۴). عشق Romance " (فاران، ۲۰۱۵ء ، ۱۹م مخ)

د اساطیرو علاوه د ملي هیندارې نور نکلونه لکه نیمبولال ، دوهٔ ورونه په یوهٔ رنګ ، زبزبانه ښاپیرۍ ، مکمل مافوق الفطري نکلونه دي، خو ځیني بیا لکه په مرد او نامرد کښې زمری ، پړانګ او ګیدړه ، د مومن خان شېرینو په نکل کښې ښاماراو داسي په نورو نکلونو کښې خال خال مافوق الفطري عناصرو سره مخامخ کیږو.

**۴. کردارونه:** د نړۍ هره کیسه پر کردارونو ولاړه وي. هر کردار د کیسې لپاره مهم وي. که له کیسې نه کردار لرې کړل شي ، یقیناچي کیسه به ړنګه شي ، ځکه چې کردارونه د کیسې د ستون په مثال دي. موږ په نکلونو کښې له بېلابېلو کردارونو سره مخامخ کیږو. ځیني کردارونه مرکزي او ځیني بیا ثانوي کارونه تر سره کوي. نور واړه واړه کردارونه هم د نکلونو برخه وي، د کردارونو یو له بل سره اوسېدل په فطري توګه راوړل د یو نکلچي خاص کمال وي. ښاغلی سیال کاکړ لیکي چې؛

"نکلونه باید داسي تکړه او قوي کردارونه ولري، چي په داستان کي ژوند پیدا کاندي. هر کردار باید په خپله اصلي بڼه کي څرګند سي. زموږ فولکلوري نکلونه پر ملي کردارو باندي ولاړ، چي د پښتونخوا په غرو او رغو پوري اړه لري." (سیال،۱۹۷۹ء، ۲۷م مخ )

په ملي هینداره کښې باچا ، وزیر، شهزاده، دېب ، ښاپیرۍ ، سپین ږیری، بوډۍ، هنرمند، پښتني وفاداري ، دلاوري مېلمه پالي مېرمني، ملنګ، ملا، بزرګ، سوداګر، نوکر، بزګر، مریې، یار، غل، لښکر، فوځ ، مغول ، مسافر، دوکاندار، غوبه ، شپانهٔ ، ګوروان او نور ډېر کردارونه دي چې د نکلونو په کیسو کښې یې خپلې ذمه وارۍ تر سره کړې دي. که نور کردارونه پرېږدو او یوازې پر ښځینه کردار خبره کوو نو به د ښاغلي دروېش دراني حواله راواخلو چې :

" زموږ په دغو لویو نکلونو کي ځیني داسي ښځینه کردارونه هم شته ، چې موږ یې مثالي پښتني بللای شو. د پښتنو په کور کي چې کله نارینه نهٔ وي. نو ذمه واري یې ښځه پوره کوي. که مېلمه راځي مېلمستیا ورکوي. که یتیمان ورپاته وي هغه پالي، تر

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-02

دي حده کـه دښمن وربانـدي راځـي نـو پـه نـره د هغـه مقابله هم کوي. د موسی جان او ولي جان په نکل کـي چي کله د کورنی نرګاري يو مخ سر وخوري. يواځي ښځي پاته شي نو دښمن (سهيلي)غواړي چي اوس نـو د ولـي جـان خـور تـانو وادهٔ کـړي. خـو تـانو پـه ډېـري هوښياری او زړورتيا ، نهٔ يواځي دا چي خپل ځـان او خپـل کـور لـه هغـه وژغـوري ، بلکـي د هغـه پـه وينـو خپلـه تـوره هـم سـره کـړي او تـر سـر يـې تېـره شـي. همدغـه رنګـه د فـتح خـان کونـډه رابيـا چـي ځنګـه د شـپېتو برېخـو مـړي سـنبال او ښـخ کـړي او د دغـو شـهيدانو د کونـډو او يتيمـانو د آبـادولو انتظـام چـي بيـا وروسته په کومه توګه وکړي، د هغه هيلـه يـواځي لـه يـوې مثـالي پښـتني ښځـه کېـدای شـي.“ ( درانـی ، ۲۰۱۴ء ، ۱۸۹م مخ )

**۵. منظر نګاري:** کيسه ګو يا نکلچي چي کله نکل اوروي. نو اورېدونکي له مکان او زمان نه هم خبر ساتي. ولي دا هم په يو لوی هنر سره اورول کيږي. تاکي خوند او پند دواړه يي د اورېدونکيو په ذهنونو کښي نقش شي. کله چي منظرنګاري په هنر سره بيانيږي، نو اورېدونکي داسي احساسوي لکه دوی چي په اصل کي د نکل برخه وي. منظرکشي د داستان خوند بيسياروي. د ښاغلي سيال کاکړ په وينا چي؛

” لازمـه ده، چي پـه نکلـو کـي د کليـاتو او جزئيـاتو پـه ډېـر ښـه توګـه منظـر کشـي وسـي، کـه چيـري فولکلوري داستانونه دغه عنصـر و روزي، نـو پـه نکل کي زيـات خوند پيدا کيږي۔ پـه پښـتو داسـتانو کي د منظر نګاري عنصر په ډېره ښـه توګـه ليدل کيږي۔“ (سيال، ۱۹۷۹ء، ۲۷،۲۸مخونه)

په ملي هينداره کښي اصفهان، کوټه، کلابست، پيښور، کندهار، بکوا، دلارام، تلخک، اټک، سوات، کشمير او نور ډېر ځايونه ياد شوي دي چي موږ يي له تاريخي واقعاتو سره هم تړلی شو.

همدارنګه ګودرونه، سيندونه ، غرونه ، باغونه ، سېل ځايونه ، زيارتونه ، ښارونه ، د لوښو ذکر ، پالنګ، خط ، تعويزونه ، دم ، دعا ، ښېرا ، لمونځ ، خزانه ، برېتونه ، شپيلی، جامي ، شکلونه ، خوراکي ځيزونه، مېوه جات او نور بلهار ډېر ځيزونه دي چي په منظرنګاري کښي يي يادونه شوي ده.

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-02
ماخذ تحقیقی مجلہ

۶. **اوږدوالی:** د داستان یا نکل یو لوی خاصیت د کیسې اوږدوالی یا طوالت هم دی. د نکلونو اورېدونکي تل اوږده داستانونه خوښوي او خوند ترې اخلي. په داستان کښې وړې وړې کیسې، قدرتي مناظر، جادوئي کیسې او عجائبات په ډېر مفصل انداز بیانیږي او د اورېدونکو د پام وړ ګرځي.

په دې اړه ښاغلی سیال کاکړ صاب لیکي؛

> " نکلونه چې څومره اوږده وي، هغومره ښه وي. اوږده داستانونه خلک خوښوي او په ډېره مینه غوږ ورته نیسي. هر سړی په دې انتظار وي چې ګوره پر مخ لا څه کیږي." (سیال،۱۹۷۹ء،۲۸م مخ)

ملي هینداره پشمول د درې ټوکه نکلونو ټول دېرش (۳۰) نکلونه دي چې موږ یې دلته وېش په درې ډول سره کوو، ځینې نکلونه اوږده دي چې تعداد یې پنځه (۵) نکلونه دي، ځینې معتدل دي چې تعداد یې دوولس (۱۲) او ځینې بیا مختصر نکلونه دي چې تعداد یې دیارلسو (۱۳) ته رسیږي.

۷. **علامت نګاري یا سمبولیزم :** د ملي هینداري یو شمېر نکلونه د علامت نګاری (سمبولیک) په دایره کښې چورلي. دا ډول نکلونه د ماشومانو لپاره د حکایتونو، د تربیت او دانشمندی کار کوي. د سمبولزم د اغاز په اړه ښاغلی ابراهیم عطایي د تاریخ قرون وسطی ( کاسمیسکي) حواله نقل کوي چې:

> " په فرانسه کې دغسې افساني ( د ګیدړي افساني Romonde Renard) په نامه یادېدې، چې په هغو کي به فیوډالانو، پاپانو او دهغو په نمایندګانو ملندي وهل سوي دي، په دغو افسانو کې په سمبولیکه توګه زمری پاچا، لېوه نجیب زاده، خر پاپ، ګیدړه چمبازه ښاري او نور واړه حېوانات د بزرګرانو تمثیل کوي. د دغو افسانو څخه په یوه کي چمبازه ګیدړه چي ټوله حیله ګری ئې بې سزا پاتېږي، غټ رول لوبوي. یو ځل چي دا ګیدړه پر غلا نیول سوې او په اعدام محکومه سوېده، نو وعده ورکوي چي په صلیبي جګړه کي به کار وکړي، معافېږي." (عطایي، ۲۰۱۱ء، ۷۲-۷۳م مخونه)

په مرد او نامرد نکل کښې زمری، ګیدړه او پړانګ، په زبزبانه شاپېری نکل کښې دېبان او ښاپېریاني، په مومن خان او شېرینو نکل کښې ښامار، او د ملي هینداري د درېیم ټوک نکلونه خو اکثر له سمبولیک نکلونو څخه ډک دي.

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-02

چي پکښي انار ژړان او سېب خندان ، لمبولال یا نیمبولال، ککرۍ، شرمښ او سره بوزه، ګیدړه او پړانګ، سپېرکونډه او فیل سرفهرست نکلونه دي.

په یادو نکلونو کښي هم ګیدړه د چالاکۍ په سوب پر نورو حېواناتو زوروره وي. په چل باندي د پړانګ غوندي زورور حېوان هم تېرباسي او تر غرۀ یې لاندي غورځوي او غوښي یې خوري. چي کله د هغه پړانګ بل ورور ګیدړه نیسي نوګیدړه یې نۀ یوازي ګمان بدلوي بلکي د ځان مریدوي یې هم.

همدارنګه سپېرکونډي مرغۍ او فیل په نکل کښي سپېرکونډه وړه مرغۍ وي او فیل یې چیچیان تر پښو لاندي کوي، په دا نو سپېرکونډه پر باز باندي عرض کوي او باز یې په مشکو سترګي باسي، ړندوي یې او مرغۍ لار ور غلطوي او تر لویه کنده یې را اچوي او دا رنګه د لوی جسامت فیل ځخه پخپل کوشني صورت بدل اخلي.

همداسي د سرې بوزې نکل دی چي شرمښ یې په چالاکۍ سره ټول بچیان خوري او سره بوزه ورلره په خپل ساده توب او معصومیت ماته ورکوي او برۍ مومي.

٨. **ندرت بیان :** نکلونه چي له پېړیو پېړیو سینه په سینه تر خلکو پوري رسېږي، په شفاهي انداز وئیل کېږي او اډانه یې خاص پر انداز بیان ولاړه ده. نو ځکه پکښي د اندازِ بیان کردار ډېر مهم ګڼل کېږي. که چیري په اندازِ بیان کښي کمی یا زیاتی راځي، نو ورته خلک هغومره توجه نۀ ورکوي، څومره چي یو نکل کماحقه په اورېدلو ارزي. په دې هکله ښاغلی څېړنوال محمد حکیم تنیوال لیکي چي:

> " د پښـــتني تـــولني نکلچـــي د شـــاعر، انځـــورګر، لوبغـاړي، سندرغاړي پـه شـان د هنـر لـه لارې د لاروي په مقوله کي ځای مونډلی شي. نکلچیـان د نکل ویلو خاص مهارتونه لري، داسي نکلچیان هم شـته چـي د څـو هنرونـو خاونـدان وي، ښـه اواز لري، ښه اکټر به وي، ډېر دراک او روانشناس بـه هـم وي. د نکـل ویـل یـې ډېـر خونـدور او پـه اورېدونکو مؤثروي. زما په نظر د نکلونو په ثبت کي تر ټولو لومړی راته " ملي هینداره" ښکاري."
> (احمدزی،١٣٩٧هـ ش کال ، ١٠٧م مخ)

که موږ مختصره خبره پر دې وکړو چي د ملي هیندارې ژبه څنګه ده ؟ د چا لپاره ده ؟ او کوم څوک متاثر کوي ؟ نو موږ په ډېر ویاړ سره وئیلی شو چي ملي هینداره کتاب یو له هغو کتابونو څخه دی چي ژبه یې عام الفهمه او د اولس ژبه ده. او هر هغه ښتون اغېزمن کوي چي په ژورو مفاهیمو یې سر نه

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-02


خلاصيږي او يو عام العام ښتون وي. ملي هينداري په پراخه پيمانه متلونه ، محاورې ، ټپې ، نارې ، ساندې، اصطلاحات او كلمات خوندي كړي دي.

**۹. پېل :** د پورتني توكيو علاوه د كيسي ځيني بنيادي توكي داسي دي چي كيسه لا په تسلسل كښي ساتي ـ چي له هغوی څخه يود كيسي پېل (شروعات) دی چي كيسه بايد ابتدا ولري ـ ابتدا د يوې پيښي يا واقعي څخه كيږي چي د كيسي سر ږدي، د واقعاتو تړون يعني (پلاټ) سازوي او په قدرتي انداز مخ په وړاندي سفر كوي ـ د ملي هينداري هر نكل ځان ته يو پېل (ابتدا) او بيانيه بڼه لري. او تقريباً د ټولو نكلونو پېل سره ورته دی ځكه چي د شفاهي كيسو مزاج هم دغسي وي. همداسي كيسه په قدرتي انداز مخ په وړاندي سفر كوي او ځان اوج ته رسوي ـ

**۱۰. اوج يا كلائمېكس:** په كيسه كښي اوج يا كلائمېكس هغه برخه وي چي اورېدونكي يا لوستونكي په تلوسه كښي اچوي چي اوس به څۀ كيږي بل دا چي دلته د كردارونو نښتل (تصادم) خپل اوج ته رسيږي په كيسه كي تلوسه زياتيږي او لوستونكي په خپل حصار كښي اخلي ـ دا د يوې كيسي بنيادي غوښتنه وي چي تجسس په داسي انداز كښي و ساتي چي لوستونكي له ځان سره وړي.د اوج څخه كيسه سوكه سوكه خپل انجام ته ځي. د هر كردار عمل وروستي پړاو ته رسيږي چي پايله وركوي.

**۱۱. پايلې:** خلک كيسي ځكه اوري چي تجسس يې پای اورېدل وي، خلک ورته غوږ ځكه نيسي چي د هرې كيسي شا ته يو مقصد او يو پيغام موجود وي. په دا نو ليكوالان په عمومي توګه د ښتنو اولسي نكلونو او په خصوصي توګه د ملي هينداري د رومانوي نكلونو په اړه دا رايه لري چي كيسي يې په غميزو يا ټرېجيډئ انجام ته رسيږي.

د دې خبرې د سپيناوي لپاره چي موږ د ملي هينداري د دريو ټوک نكلونو پايلي ولولو، نو په دې تحقيق رسيږو چي ډېری نكلونه يې خپل انجام ته په خوشحالی او لږ نكلونه يې په غميزې پای ته رسيږي. لاكن موږ تش تعداد ته هم نۀ شو كتلای، د ملي هينداري په نكلونو كښي هغه ښتانۀ اتلان چي له پېړيو ورباندي د ښتنو زړونه ښۀ دي، ټول په ارماني مرګ مري چي د يوې لويي الميي نه كمه خبره نۀ ده.

د دې مقالي په پای كښي موږ دې نتيجي ته رسيږو چي د اولسي ادب نكلونه په تېره بيا د ملي هينداري نكلونه په پورتنی بيان شوي توكو بنا شوې داسي رونه هينداره ده چي د ښتي كلتور هر اړخ پكښي څرګند معلوميږي. كه يې فكري اړخ ته وكتل شي هم ، سرې په ډاګه وئيلی شي چي اكثر نكلونه يې كه څۀ هم تاريخي سند نۀ تر لاسه كيږي خو د ښتنو د تاريخ هر اړخ پوره څرګندونه شوې ده. او كه يې فني اړخ ته وكتل شي ، نو پورتني بيان شوي توكي يې په زړۀ پوره احاطه كوي. د ملي هينداري پورته بيان شوی تفصيل كه څۀ هم

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-02

اشارتاً بیان شوی دی، او د چوکاټ د تنګی له وجهي مختصره خبره وربانديِ شوې ده. خو راتلونکي څېړونکي کولای شي چې د ملي هيندارې د کيسو پر جوړښتي توکو په پراخه پېرايه تحقيق وکړي چې ارزښت يې لا سپوا شي.

**حوالي**


1. کاکړ، سيال، پښتو نکلونه،(۱۹۷۹)، پښتو اکېډمی بلوچستان کوټه ،۲۷ مخ
2. جهاني، عبدالباري ، د پښتو د فوکلوري نکلونو لنډ تحليل،(۲۰۱۱ء)، علامه رشادخپرندويه ټولنه ، کندهار، ۱۳۴م مخ
3. عطايي، محمد ابراهيم، ملي هينداره د اجتماعي څېړنو له نظره،(۲۰۱۱ء)، د اطلاعاتو او فرهنګ رياست، کندهار، ۶۳م مخ
4. سيماب، نصيب الله، د کره کتنې اصطلاحات ،(۲۰۱۹ء)، پښتو اکېډمی بلوچستان کوټه، ۹۹م مخ
5. سليم اختر، ډاکټر، داستان اور ناول،(۱۹۹۱ء)، سنګ ميل پبلشرز لاهور، ۳۲م مخ
6. فاران، فېصل، اساطيري تلميحات په پښتو شاعری کښې، (۲۰۱۵ء) ، پښتو اکېډمی بلوچستان کوټه، ۱۹م مخ
7. همدا اثر، ۱۹م مخ
8. کاکړ، سيال، پښتو نکلونه،(۱۹۷۹)، پښتو اکېډمی بلوچستان کوټه ،۲۷ مخ
9. دراني، درويش ، د پښتني ژوند کړۀ وړۀ ، (۲۰۱۴ء) ، ۱۸۹م مخ
10. کاکړ، سيال، پښتو نکلونه،(۱۹۷۹)، پښتو اکېډمی بلوچستان کوټه ،مخ ۲۷،۲۸
11. همدا اثر، ۲۸م مخ
12. عطايي، محمد ابراهيم، ملي هينداره د اجتماعي څېړنو له نظره،(۲۰۱۱ء)، د اطلاعاتو او فرهنګ رياست، کندهار ، ۷۲-۷۳م مخونه
13. احمدزی،محمد آصف، څېړنوال، په افغانستان کې د فولکلور پېژندنې اړتيا، (۱۳۹۷هـ ش کال/ ۲۰۲۰ء) ، د افغانستان د علومو اکاډمي، د اطلاعاتو او عامه اړيکورياست کابل، ۱۰۷م مخ